**مطبوعاتي اعلامیه**

**حزب التحریر ولایه پاکستان د مسجد الاقصی د آزادۍ لپاره لاریون وکړ**

**مسجد الاقصی او فلسطین به یوازې د یوه وسله وال پوځ په منظم جهاد آزاد شي**




(ژباړه)

حزب التحریر- ولایه پاکستان د دغه هېواد په لویو ښارونو کې د بې رحمه او وحشي یهود دولت له اشغال څخه د فلسطین او مسجد الاقصی د آزادۍ لپاره لاریونونه وکړل. لاریون کوونکو له ځان سره بنرونه او شعارونه لېږدول چې پرې لیکلي وو: «د پاکستان اردو د فلسطین او مسجد الاقصی د آزادۍ لپاره تجهیز کړئ» او «فلسطین د امت موضوع ده، یوازې د فلسطین د خلکو موضوع نه ده».

د یهودو ناولي دولت په وار وار د فلسطین د مسلمانانو او مسجد الاقصی حرمت تر پښو لاندې کړی، خو لا هم د اسلامي هېوادونو واکمنان، سره له دې چې ځواکمن پوځ یې تر لاس لاندې دی، د دوی د آزادۍ لپاره ګام نه پورته کوي. له یهود دولت څخه د دغو جنایتکارو حاکمانو پټ او ښکاره ملاتړ، یهود هڅوي چې په ښکاره زموږ پر مقدساتو تېری وکړي او تر پښو یې لاندې کړي. د فلسطین مسلمانان له اسلام او مسجد الاقصی سره سخته مینه لري، که څه هم دوی تقریبا اویا کاله تر بې رحمه اشغال لاندې دي؛ خو د دوی دیني انګېزه کمزورې نه، بلکه لا پیاوړې شوې ده. دوی پوهېږي چې د مسلمانانو اوسني حاکمان به یې هېڅکله د ژغورنې لپاره کار ونه کړي، خو د دوی ایمان اجازه نه ورکوي چې د مسجد الاقصی حقارت ومني او د دې لپاره دوی د یهودو د مجهزو ځواکونو پر وړاندې په خالي لاس ولاړ دي.

د فلسطین د مسلمانانو قربانۍ او زړوره مبارزه به د فلسطین او مسجد الاقصی د آزادۍ لپاره هېڅکله بسنه ونه کړي، تر هغه چې مسلمان پوځونه د دوی ملاتړ ونه کړي. د مسلمانانو تاریخ پر دې حقیقت ګواهي ورکوي، چې کله به کفارو د فلسطین په ګډون د مسلمانانو ځمکه اشغال کړه، نو به اسلامي پوځونو ازادوله. حتی نن مسجد الاقصی او د فلسطین مسلمانان په دې تمه دي، چې د دغه عصر صلاح الدین ایوبي راشي او دوی یو ځل بیا آزاد کړي. کفار او د مسلمانانو حاکمان غواړي چې دغه موضوع یوازې د فلسطین د خلکو موضوع وښيي، نه دا چې دا د ټول اسلامي امت قضیه ده. دوی په دې چټې هیله دي چې د نړۍ مسلمانان ځانونه له دې موضوع جدا وبولي. که څه هم د مسجد الاقصی او فلسطین آزادي د یوه ځانګړي پوځ دنده نه، بلکه د ټول اسلامي پوځ دنده ده؛ ځکه چې دا موضوع د ټول امت موضوع ده.

څو چې د مسلمانانو پر سر دا حاکمان وي، اسلامي پوځ به هېڅکله بسیج نه شي. د اسلامي پوځونو لپاره دا اړینه ده چې د نبوت پر منهج د خلافت د بیا تاسیس لپاره حزب التحریر ته په نصرت ورکولو د دغو خاینو حاکمانو جرړې وباسي. تر دې وروسته به راشد خلیفه د مسلمانانو سیمې او پوځونه د رسول الله صلی الله علیه وسلم تر بیرغ لاندې یو ځای کړي. یوازې همدا وخت به نومړی شخصاً لوی او ځواکمن اسلامي پوځ د مسجد الاقصی او ټول فلسطین د آزادۍ لپاره رهبري کړي، چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم زېری په رښتیا کړي، انشاءالله. په صحیح مسلم کې له ابو هریرة څخه روایت دی، چې روسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي:

**«لَا تَقُومُ السَّاعَةُ حَتَّى يُقَاتِلَ الْمُسْلِمُونَ الْيَهُودَ، فَيَقْتُلُهُمُ الْمُسْلِمُونَ»**

*قیامت تر هغه نه راځي، تر څو مسلمانان له یهود سره ونه جنګېږي او مسلمانان به یهود ووژني.*

رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه بل روایت کې فرمایي:

**«تُقَاتِلُكُمْ يَهُودُ، فَتُسَلَّطُونَ عَلَيْهِمْ»**

*یهود به له تاسو سره جګړه وکړي او تاسو به ورباندې غالب شئ.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**شمېره: PR17059**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذولقعدې ۹مه**

**۲۰۱۷م، د اګست ۱**